سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۰۶/۱۲

# مـجـبـــوره حـــوره !

ناسته د سرک په غاړه، سوال کوی مجبوره ده
دا د لـوی افغان د لـوی اسمان، د کلی حـوره ده
ناسته ده خو سوزی، د غیرت نه په اوړونو کی
داسـی ویلی کیږی، لکه شـمعه محفلونو کی
ژاړی څکه سوال کوی، په شتون د اوو ورونو کی
موریی هم له غمه، په بستر پرته رنځـوره ده
دا د لوی افغان د لوی اسمان، مجبوره حوره ده

** * **

دری ورونه یی ساتنه، د وطن کوی سنگر کی دی
دری نوریی د نورو، جنگیالیو سره لښکر کی دی
پلاراو کشروروریی، بندیوان کوم سمندر کی دی
څوانه کونده شوی، دوه زامنو باندی بوره ده
مور یی هم له غمه، په بستر پرته رنځوره ده

** * **

ناسته ده حیرانه، لکه ساه چی تری وتلی وی
ښکاری نا اشنا، لکه له بل جهان راغلی وی
یا لـکه په میـنه کی د چا، چی تیـر وتلـی وی



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

نه ! خو داسی نه ده، د افغان لورده مغروره ده

ناسته د سرک په غاړه، سوال کوی مجبوره ده

** * **

ښکاری چې په زړه کی، رهبرانو ته ښیرا کوی

یا د کوڅی تولو، شیطانانو ته کنځا کوی

یا د حق د لاری ، شهیدانو ته دعا کوی

ډیره نا آرامه ده ، هوسی غوندی تروره ده

دا د لوی افغان د لوی اسمان، د کلی حوره ده

*****

څو به ښاپیري، د څو دیوانو په ولکه کی وی

څوبه شیطانان راته، دیره کعبه مکه کی وی

څو به مود ژوند اختیار، د نورو په قبضه کی وی

مور می د وطن هم، د پردی کاله مزدوره ده

ناسته د سرک په غاړه، سوال کوی مجبوره ده

** * **

دا د وطن لور، د خپل نادان له لاسه سپکه شوه

خورد پریښتو، د ظالم ورور د لاسه ورکه شوه

میني نه بی برخي شوه، چی تولِه جوړه کرکه شوه

ژاړی کلیوال ځکه، د نور سپوږمی بی نوره ده

خورمی د سرک په غاړه، سوال کوی مجبوره ده

جون/۶/۲۰۱۹

مرکم ــ تورنتو ــ کاناډا

مجبوره حوره

kliwal_s_٤٥_madjboora_hoora.pdf